# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**کومه روژه الله تعالی ته د منلو وړ ده**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمايي:** څوک چي د درواغو خبره او په هغه باندي عمل او جهالت پرې نږدي؛ نو الله تعالی د هغه دغي روژې ته هيڅ اړتيا نه لري، چي اوبه او ډوډۍ ترک کړي. [صحيح البخاري (٦٠٥٧)]

**کدام روزه مورد قبول خداوند متعالی می باشد؟**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **می فرماید:** کسی که از سخن دروغ و از عمل کردن بر آن و جهالت دست بردار نباشند؛ پس خداوند متعال هیچ نیازی به روزه وی نداشته، که فقط آب و غذا را ترک کرده باشند. [صحيح البخاري (٦٠٥٧)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه | د رمضان المبارک ٢٧ - ١٤٤٥ل س/ د وری ١٨ - ١٤٠٣ل ل/ د اپریل ٦ - ٢٠٢٤ز/دریم کال / ٩٣ گڼه/ ٤ مخیز

١


# د ماليې وزارت له لوري د (۱۴۰۳) مالي کال لومړنۍ حواله اجراء سوه




د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله له هدايت سره سم د (۱۴۰۳هـ.ل) مالي کال د لومړنۍ حوالې چک د ماليې وزارت د کفيل او مالي معين حاجي عبدالقدير احمد له لوري لاسليک او اجراء سو. د لومړنۍ حوالې له اجراء سره سم به؛ د ماليې وزارت له لوري لومړی د امارتي ادارو کارکوونکو د حمل (وري) مياشتي معاشونه او د ادارو اړين لګښتونه اجراء سي او بيا به د ملي بوديجې له توشيح وروسته د (۱۴۰۳) مالي کال د ټولو لګښتونو تأديات په عادي ډول پيل سي.

# د کندهار او زابل په مستوفيتونو کي د لمريزي برېښنا شبکې فعالي سوې



د کندهار او زابل ولايتونو په مستوفيتونو کي د (۳۵) او (۲٦) کيلوواټه وړتيا په لرلو سره د لمريزي برېښنا شبکې فعالي او د ګټي اخيستني وړ سوې. د دغو دواړو ولايتونو په مستوفيتونو کي د لمريزي برېښنا پر شبکو باندي په ترتيب سره د کندهار ولايت پر برېښنايي شبکه (۲٦۱۳۸۳۴) افغانۍ او همدارنګه د زابل ولايت د برېښنا پر شبکه (۲۵۴۷۴۳۱) افغانۍ لګښت راغلی، چي د دواړو برېښنايي شبکو لګښتونه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي. د کندهار ولايت مستوفي مولوي سيد نور احمد سعيد د دغي پروژې په اړه وويل، چي د کندهار د لمريزي برېښنا دغه شبکه د ماليې وزارت په هڅو او مالي ملاتړ پلې سوې ده، چي د (۳۵) کيلو واټه برېښنا د توليد وړتيا لري او د کندهار مستوفيت به ګټه ورڅخه اخلي، د مراجعينو په کارونو کي به اسانتيا رامنځته کړي او د برېښنا ستونزه به د تل لپاره حل سي. د ماليې وزارت په استازيتوب، د دغه وزارت د قراردادونو د تسهيل آمر محمد موسی حماد د يادي پروژې د پرانيستني پر مهال وويل، د ماليې وزارت هڅه کوي، چي په ټولو مستوفيتونو کي د کارونو د پرمختګ او منظموالي په موخه دغسي برېښنايي پروژې تطبيق کړي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت هڅه کوي، د ټولو ولايتونو مستوفيتونه او ګمرکونه عصري، برېښنايي او په اوسنۍ ټکنالوژۍ سمبال کړي؛ ترڅو وکولای سي د سيمي او نړۍ له سيستمونو سره سيالي وکړي.

## د ماليې وزارت خبرتيا!

ماليې وزارت د کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت، د امارتي ادارو کارمندانو ته پر وخت د معاشونو حواله کولو او په چارو کي د کاري حجم او بېروبار د کموالي په موخه؛ په مرکز کي د ملي بوديجې او خزاينو لويو رياستونو او په ولايتونو کي د مستوفيتونو د مالي برخي کارکوونکو کاري موده د جمعې ورځي په شمول د روژې له (۲۵) مي نېټې څخه تر کوچني اختر پوري د سهار له (۷) بجو څخه تر مازيګر ۴:۳۰ بجو پوري وغځوله. همدارنګه ټول بوديجوي واحدونه هم کولای سي، چي خپلي حوالې د چېکو طی مراحلو په موخه د سهار له (۷) بجو څخه له ماليې وزارت سره شريکي کړي.



## سر مقاله

### اهمیت استراتیژی اقتصادی برای انکشاف پایدار

برای بهبود و پیشرفت اقتصاد افغانستان در عرصه های مختلف، نیاز به استراتیژی اقتصادی است که بتواند تنظیم نظام مالی، تجارتی، بانکی، فعالیت های تولیدی، صنایع، کنترول نرخ معاملات اسعاری، تعرفه های گمرگی، تقویت سکتور خصوصی، تنظم نیروی کار، ایجاد بازار های مالی و تجارتی، تمرکز بیشتر به زیر بنا ها و زیر ساخت های اساسی، مستلزم جلب و جذب سرمایه گذاری برای رشد و پیشرفت اقتصادی کشور در کوتاه مدت، میان مدت و نیز طویل المدت کمک نموده، انقلاب بزرگ را در عرصه انکشاف اقتصادی و پایداری ثبات اقتصادی، توزیع عادلانهٔ عاید، نقش بسیار مهمی را در پیشرفت رشد فعالیت ها و انکشاف اقتصادی افغانستان به وجود می آورد. به منظور بهبود شرایط اقتصادی و بهتر ساختن زندگی جامعه، باید استراتیژی اقتصادی که در آن محوریت رشد اقتصادی با ظرفیت های تولیدی اعم از ظرفیت های فزیکی، ظرفیت های منابع انسانی و اجتماعی، جهت رشد و انکشاف اقتصادی، از نگاه افزایش فیصدی رشد کمی تولید و رشد ناخالص ملی کشور کمک می نماید، دو هدف کلی و اساسی را برای پیشرفت جامعه، تعییرات اقتصادی، ریشه کن کردن فقر و رفاه اقتصادی می باشد دنبال نموده که هدف اولی آن: جلب سرمایه گذاری ها در زیربنا های اساسی، افزایش ثروت، کاهش فقر و از بین بردن بیکاری است. و هدف دومی آن: ایجاد اشتغال زایی، تآ مین مصؤنیت غذایی مردم و ملت به صورت دوامدار، در راستای تأمین عدالت اجتماعی با افزایش سطح در آمد و رفاه جامعه می باشد. اهمیت استراتیژ اقتصادی برای انکشاف پایدار، با توجه به شاخص های درآمد اقتصادی در کشور های روبه انکشاف بوده، که تقسیم در آمد ملی یک شور را در عرصه تولیدات ناخالص داخلی، نظر به جمعیت کشور و عاید سرانه آن نشان داده بدست می آورد. عاید سرانه نشان دهندهٔ تحول رشد فیصدی افزایش و یا کاهش در آمد سالیانه برای انکشاف یافتگی یک کشور را نظر به مقدار تولیدکالا های مختلف، قدرت خرید مردم، قیمت های محلی کشور، به خصوص سطح قیمت محصولات و خدمات را در کشور های مختلف جهان به معرفی می گیرد. از اینرو باید، امارت اسلامی افغانستان بالای استراتیژی اقتصادی افغانستان تمرکز نموده، تا تحول بزرگ را برای افزایش درآمد سالیانه ای مردم افغانستان بوجود آورد. بزرگترین چالش، نبود یک استراتیژی اقتصادی در کشور است، با تهیه و تنظیم نمودن استراتیژی اقتصادی میتوان تمام بخش های اقتصادی را درج نموده، جهت مدیریت و اقدام عملی آن در راستای فعالیت های انکشافی و توسعوی، تغییرات مثبت را برای بهبود وضعیت اقتصادی آینده کشور، و عدم وابستگی با کشور های صنعتی، به هدف اصلی افزایش رفاه و امکانات منابع داخلی کشور و ریشه کن کردن فقر و افزایش اشتغال زایی با محوریت امارت اسلامی افغانستان توانمندی را با ترتیب استراتیژی اقتصادی بوجود خواهد آورد. یافته های این اداره نشان میدهد، بدون استراتیژی اقتصادی، انکشاف زیر بناها و رشد اقتصادی، افزایش عاید سرانه مردم و ملت افغانستان در اندیشه های اقتصادی ناممکن خواهد بود، تغییرات و تحولات اقتصادی باید با تهیه و تنظیم استراتیژی اقتصادی هم خوانی داشته باشد. فلهذا، پایه اساسی اقتصاد یک کشور با رهبری، مدیریت و بررسی پیامد های ممکن بوجود آمده، جهت پیشرفت و رشد سریع صنایع، تولیدات داخلی و انکشاف فعالیت های اقتصادی متکی به ابتکار عمل حکومت می باشد.


**با احترام**

**اداره**



**به تعداد ۱۱۷ تن از کارمندان ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه از برنامه آموزشی فارغ شدند**

م ۲



**د تشخيصيه نمبر مرکزي آمريت د (۱۴۰۲) مالي کال لاسته راوړني**

م ۲




**د عوايدو لوی رياست د انګليسي ژبي د ابتدايي کورس فارغانو ته تصديق پاڼي ورکړل سوې**

م ۲



**د تورخم ګمرک کارکوونکو د يو شمېر نظامي تجهيزاتو له قاچاق څخه مخنيوی وکړ**

م ۲



**وضعيت تجارت محصولات زراعتی در افغانستان**

م ۳




**روسيې طالبان فورم ته ور بللي دي**

م ٤

# به تعداد ۱۱۷ تن از کارمندان ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه از برنامه آموزشی فارغ شدند


به تعداد (۱۱۷) تن از کارمندان ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه از برنامه آموزشی (۳۷) روزه ارتقای ظرفیت فارغ گردیدند.
در نشستی که به مناسب فراغت این کارمندان در خیبرهال وزارت مالیه دایر گردیده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری، انجنیر سلطان محمد زبیر، معین پالیسی، انجنیر عبدالطیف خالد، رئیس عمومی تفتش داخلی و شماری دیگر از مسئولین وزارت مالیه اشتراک داشتند.
نخست انجنیر عبدالطیف خالد، رئیس عمومی تفتیش داخلی طی سخنانش پیرامون ابتکارات و دستآورد های این ریاست پس از حاکمیت دوباره امارت اسلامی معلومات داده افزودند که تفتیش یک اداره مستقل و بی طرف بوده و رهنمایی های اصلاحی لازم را برای ایجاد تغییرات مثبت و از بین بردن فساد ارائه می دهد. وی اظهار نمود که سفارش های اصلاحی مفتیشین با اخلاص، با تقوا و کارفهم اثرات مثبت داشته و پلان های این



اداره صد فیصد تطبیق گردیده است که یکی از پلان های این اداره ارتقای ظرفیت کارمندان بوده که طی یک ورکشاپ آموزشی کوتاه مدت (۱۱۷) تن از کارمندان ما آموزش های لازم دیده اند.
رئیس عمومی تفتیش داخلی همچنان خواهان همکاری معینیت اداری جهت تدارک برنامه های آموزشی کوتاه مدت برای کارمندان ریاست عمومی تفتیش داخلی در خارج از کشور شد.
متعاقباً مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری طی سخنانش گفت، تفتیش، بررسی، فساد زدایی و حفاظت از بیت المال به خیر این نظام اسلامی و به خیر مردم افغانستان بوده و باید جداً انجام یابد. حکومت عاری از فساد و مسئولین صالح از آرمان های شهدا و مردم مظلوم افغانستان بوده که باید برای تحقق آن تلاش صورت گیرد. وی از همکاری همه جانبه با ریاست عمومی تفتیش داخلی اطمینان داد.
در اخیر به کارمندان که این برنامه را مؤفقانه سپری نموده بودند، تقدیرنامه و تصدیقنامه اعطا گردید.
ریاست عمومی تفتیش داخلی با استفاده از بررسی دقیق که از ادارات مربوط وزارت مالیه انجام می دهد نقش مهمی در از بین بردن فساد اداری، کم کاری و سکتگی، بهبود امور و ارتقای ظرفیت کارمندان، ایفاء می کند.
قابل یاد آوریست که در این برنامه (۳۷) روزه اساسات تفتیش، پلان گذاری، گزارش نویسی، تفتیش به اساس خطر، پروسه های تدارکات، بودجه، خزاین، عواید و گمرکات و موارد کاربردی کد جزاء به اشتراک کنندگان تدریس گردید.

# د تشخیصیه نمبر مرکزي آمریت د (۱۴۰۲) مالي کال لاسته راوړني

د عوایدو لوی ریاست د ښې رهبرۍ او سالم مدیریت په مټ د تشخیصیه نمبر مرکزي آمریت د تېر (۱۴۰۲) مالي کال په اوږدو کې د پخوا په پرتله بیا ځلي خپل عادي حالت ته راګرځېدلی او اوسمهال ئې ټول فعالیتونه په شفافیت، اسانۍ او چټکۍ سره مخته روان دي. دغه آمریت مراجعینو ته چټک خدمات وړاندي کوي، د نارینه او ښځینه کارکوونکو او مراجعینو لپاره ئې بېلي ځانګي او د تشخیصیې نمبر په اخیستلو کي معیاري پروسه رامنځته کړې ده. دغه مرکز په ټول هیواد کي د تشخیصیه نمبر اخیستلو په موخه (۵۰۲۳۹۷) غوښتنلیکونه ترلاسه کړي، چي د مرکزي دفتر لخوا له پلټني وروسته تائید او د اړوند دفتر لخوا ورته وېشل سوي دي او په سلګونو تکراري (ټي آی این) نمبرونه ئې پیدا او حذف کړي دي، چي له دې ارقامو څخه ئې (۴۴۰۴۳۷) غوښتنلیکونه نوي، (۶۱۹۶۰) ئې مخکني او (۷۶۴۰۵) ئې د مرکزي دفتر لخوا ورته رسېدلي دي. همداشان دغه مرکز (۴۳۷۳) جلده مکتوبونه او (۶۲۰) جلده استعلامونه بېلابېلو ادارو ته استولي دي او (۴۳۷۳) بنسټونه (شرکتونه، مؤسسې، ټولنې، علمي مرکزونه، بنسټونه، یوټیوب چینلونه او نور...) ئې د سیګتاس په سیستم کي ثبت کړي دي. په پایله کي ټول هغه بنسټونه، چي مالیاتي وجایب او تصفیې ئې سرته نه وي رسولي، اړ کړي دي، چي خپل مالیاتي مکلفیت بشپړ او باقیات تصفیه کړي.



# د عوایدو لوی ریاست د انګلیسي ژبي د ابتدایي کورس فارغانو ته تصدیق پاڼي ورکړل سوې

د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست (۱۶) تنو هغو کارکوونکو ته، چي د انګليسي ژبي (۴) مياشتنی ابتدايي کورس ئې په برياليتوب سره بشپړ کړی وو، تصديق پاڼي ورکړې.
په دې مناسبت جوړه سوې غونډه کي، چي د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو معينيت د غونډو په تالار کي جوړه سوې وه، د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال حافظ خليل احمد ابو احسان، د بشري سرچينو رئيس مولوي احمد شاه شاکر او د ماليې وزارت يو شمېر نورو مسؤلينو ګډون کړی وو.
مولوي احمدشاه شاکر د خپلو خبرو په ترڅ کي وويل، چي موږ مکلف يو، چي د دغه نظام لپاره خدمت وکړو، د دې نظام په خدمت کي سياسي، نظامي، کلتوري، ټولنيز او اخلاقي اړخونه شامل دي، چي ټول بايد پياوړي سي؛ نو په ټول توان سره هڅه وکړئ، چي د دې نظام د سياسي او فرهنګي اړخ د پياوړتيا لپاره له عصري ټکنالوژۍ او انګليسي ژبي څخه په ګټه اخيستنه د دښمنانو دسيسې وپېژنئ او شنډې ئې کړئ.
د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال حافظ خليل احمد ابو احسان په خپلو خبرو کي وويل، چي د دغه نظام د واکمنېدو لپاره مو ډېري قربانۍ ورکړې دي او اوس اړتيا ده، چي له هري ممکني لاري ئې پياوړی کړو، که هغه د علومو او عصري ټکنالوژۍ زده کړه وي او که د بېلابېلو ژبو. هر هغه څه، چي د ځوانانو د ودي او د دوی د استعدادونو د غوړېدا، د هيواد د پرمختګ او د دغه نظام د بقا لامل کېږي، بايد ګټه ور څخه واخلو.
دوه تنه هغه کارکوونکي، چي له دغه روزنيز پروګرام څخه فارغ سوي ول، له ماليې وزارت څخه ئې د دغه لنډ مهاله کورسونو د جوړولو په پار مننه وکړه او د پروګرام له مسؤلينو څخه ئې وغوښتل، چي د انګليسي ژبي د کورسونو د تمديد ترڅنګ دي د کمپيوټر کورسونه هم جوړ کړي.
ياده غونډه د تصديق پاڼو په ويشلو او د خير دعايې په ويلو سره پاي ته ورسېده.




# د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دغه وزارت له کارکوونکو څخه د عقیدتي درسونو ازموینه واخیسته

د افغانستان اسلامي امارت د دعوت او ارشاد لوی ریاست د حکم پر بنسټ د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دغه وزارت له کارکوونکو څخه د عقایدو او طهارت په برخو کي ازموینه واخیسته.
په دغه تحریري ازموینه کي، چي د مالیې وزارت په جومات کي واخیستل سوه، له (۵) ګروپونو څخه شاوخوا (۱۰۶۰) تنو ګډون کړی وو، چي د عبدالله ابن عباس له ګروپ څخه (۲۲۰) تنو، د عبدالله ابن عمر له ګروپ څخه (۲۱۰) تنو، د عبدالله ابن مسعود له ګروپ څخه (۲۴۰) تنو، د عبدالله ابن زبیر له ګروپ څخه (۱۹۰) تنو او د حضرت معاویه له ګروپ څخه (۲۰۰) تنو حضور درلود.
د ازموینې موخه د اوامرو اطاعت، دیني چارو ته د کارکوونکو هڅول او د الهي قوانینو پلي کول ول؛ ترڅو په فکري او عقیدتي بډاینې سره د پردیو د کلتوري یرغل مخه ونیول سي.
د دعوت او ارشاد ریاست مسؤلینو، چي د ازموینې له بهیر څخه ئې خارنه کوله، له کارکوونکو څخه ئې د جماعت، عقیدتي او دیني درسونو ته د حاضرېدو او له اسلامي شریعت سره سم د خپل سیرت او صورت جوړولو له امله مننه وکړه او زیاته ئې کړه، چي د آزموینې پایلي به له کوچني اختر وروسته اعلان او هغو کسانو ته به ډالۍ هم په پام کي ونیسي، چي لوړې نمرې ئې ترلاسه کړې وي.

# د تورخم ګمرک کارکوونکو د یو شمېر نظامي تجهیزاتو له قاچاق څخه مخنیوی وکړ



د تورخم ګمرك د تشريح برخي کارکوونکو د کريم عابد شرکت اړوند په يوې سوداګريزه محموله کي، چي سيمينټ پکښې بار ول (۱۰) ميله بېلابېل ډوله تفانچې، (۲۱) عدده شاجورونه او يو عدد کنداغ، چي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي ول او قاچاقچيانو غوښتل، چي له ګاونډي هيواد څخه ئې افغانستان ته راوړي، کشف او ونيول.
د يادوني وړ ده، چي اوس مهال د هيواد په ټولو ګمرکونو کي د ممنوعه او قاچاقي توکو څخه په جدي توګه څارنه کېږي او چاته اجازه نه ورکول کېږي، چي ياد توکي صادر او يا وارد کړي.

# تېره اوونۍ د کندهار او نیمروز په ولایتونو کي د یو شمېر توکو له قاچاق څخه مخنیوی وسو



تېره اوونۍ د کندهار او نيمروز ګمرکونو د ګرځنده څارني کارکوونکو د يادو ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي يو شمېر قاچاقي توکي کشف او نيولي دي.
په نيول سوو توکو کي (۲۴۶۰) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۳۹۳۶) کيلو ګرامه رُب، (۵۵۷۵) کيلو ګرامه بېلابېل ډوله چاکلېټ، (۲۴۰۰) کيلو ګرامه ګوړه او (۸۶۵) کيلو ګرامه شيدې شاملي دي، چي قاچاقچيانو غوښتل په پټه ئې هيواد ته راوړي.
نيول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

# د هرات ولایت په ګمرک کي د یوه کارکوونکي په ګډون پنځه تنه د مالي فساد او غلا په تور ونیول سول

د هرات ګمرك د ګودامونو ځانګي يو تن کارکوونکی، درې تنه کاريګر او د سوداګريز شرکت يو کارکوونکی د همدې شرکت د سوداګريزو توکو د غلا او مالي فساد په تور ونيول سول.
دغه کارکوونکی او ورسره درې تنو کاريګرو د يوه سوداګريز شرکت د کارکوونکي په لارښوونه او د پيسو په بدل کي د ياد شرکت له وارداتي توکو څخه يوه اندازه قيمتي اجناس غلا او ياد کارمند ته ئې سپارلي ول، چي د ګمرك د مسولينو په هلو ځلو ټول تورن کسان ونيول سول او په خپل جرم ئې اعتراف وکړ.
ياد کسان د نورو څېړنو او اجراآتو په موخه مربوطه عدلي او قضايي ارګانونو ته سپارل سوي دي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# وضعیت تجارت محصولات زراعتی در افغانستان

دوکتور محمد اکبر نادرپور





افغانستان با داشتن محصولات زراعتی، در زمینه ای تولید گندم، برنج، جو، جواری، سایر حبوبات و بزرگترین تولیدکنندۀ محصولات باغداری، بادام، پسته، انجیر، انار، جلغوزه، سب و آنگور، پیشنه ای تاریخی در حصۀ تولیدات محصولات زراعتی و باغداری داشته است. مردم افغانستان مشغول فعالیت های اساسی زراعت و مالداری بوده که ۳۱ فیصد درآمد ملی افغانستان از بابت محصولات زراعتی بدست می آید. به اساس آمار رسمی سال ۲۰۰۹ میلادی صادرات این کشور حدود (۸,۵۵) میلیارد دالر و واردات آن در حدود (۲,۱۲۸) میلیارد دالر تخمین گردیده بود. افغانستان بزرگترین تولید کنندۀ محصولات زراعتی و به خصوص تولید کنندۀ هنگ در جهان به حساب می آید، اگر چه سهم افغانستان در صادرات و واردات محصولات زراعتی جهان طی سال های گذشته افزایش یافته است، نقش صادرات افغانستان در حصه محصولات تجارتی طی سال های اخیر کمرنگ بوده، محدودیت های که با جانب افغانستان وضع شده است، بالای تولید و بازاریابی کالا های تجارتی محصولات زراعتی، عملکرد زراعت، وابستگی روز افزون مردم افغانستان با این سکتور مهم و حیاتی، توجه زیاد را در زمینه تجارت محصولات زراعتی افغانستان با جهان به خود جلب نموده است. کشور های که بیشترین سرمایه گذاری را در سکتور زراعت براه انداخته اند شامل: هندوستان، ازبکستان، روسیه، پاکستان، ایران، قزاقستان، تاجکستان، ایالات متحده آمریکان، جاپان و چین بوده و افغانستان در پائین ترین سطح قرار داشته است. علت بی توجهی سرمایه گذاری در سکتور زراعت افغانستان، نبود افراد مسلکی در سکتور زراعت و عدم استخدام مدیران ارشد کار فهم و توانمند در عرصه ای شناسای و تشخیص فرصت های سرمایه گذاری در این سکتور حیاتی، برای افزایش و پایداری تولید و تجارت محصولات زراعتی افغانستان بوده است. افغانستان از لحاظ فعالیت های تولیدی و تجارتی، در عرصۀ ساختار اقتصادی، از اهمیت تجارت محصولات زراعتی خاصی برخوردار بوده، تقویت و انکشاف فعالیت های زراعتی، میتواند به رشد و توسعه فعالیت های اقتصادی با مزیت نسبی در امر تجارت محصولات زراعتی تأثیر گذار تلقی شود، در شرایط فعلی افغانستان میتواند سکتور زراعت را بحیث یک سکتور عمده، به منظور افزایش تولیدات محصولات زراعتی با ایجاد زیر ساخت های اقتصادی این کشور، در اولویت خود قرار داده و سرمایه گذاران داخلی و خارجی را در سکتور تولیدی و تجارتی زراعت جلب نماید. جانسون و ملور سال (۱۹٦۱) میلادی چنین فرموده است: زراعت نه تنها نقش انفعالی در توسعه ایفا نمی کند، بلکه میتواند در پایه ریزی ساختاری اقتصادی در کشور های روبه توسعه، پنج کمک مهم را انجام دهد، عبارت اند" فراهم آوری نیروی کار، سرمایه، ارز، مواد خام برای بخش روبه رشد صنعتی و ایجاد بازار مناسب برای کالای صنعتی تولید شده در داخل". به همین منظور، درک جایگاه زراعت در تولید و تجارت در اقتصاد افغانستان و مقایسه آن با سکتور های دیگر بخش های اقتصادی و یافتن این بخش کلیدی میتواند دیگر گونی و تحول بزرگ را در عرصۀ افزایش تولیدات داخلی و تجارت بین المللی بو جود آورد. نظر به وضعیت فعلی، رشد و انکشاف فعالیت های تجارتی محصولات زراعتی میتواند مهم ترین نقش را در اقتصاد کنونی افغانستان بازی نماید، تولید و افزایش ساحه تحت کشت و میزان تولیدات محصولات زراعتی، افزایش صادرات، توانمندی افغانستان را در عرصۀ تولید محصولات زراعتی و سایر تولیدات باارزش زراعتی، نشان داده، برای رشد اقتصادی این کشور گام موثر را جهت حمایت دوامدار این سکتور مهم به حیث محصول کلیدی در بخش تجارت قلمداد نمود.

نتیجه مطالعه و تحقیق در عرصۀ وضعیت تجارت محصولات زراعتی، نشان می دهد، که روند سرمایه گذاری و تجارت محصولات زراعتی، در پائین ترین سطح قرار داشته، باید با این سکتور مهم و پر منفعت اقتصادی توجه بیشتری صورت گیرد، زیرا زراعت افغانستان برای سرمایه گذاری بستر مناسب دانسته شده، تا به حال در این سکتور سرمایه گذاری بزرگ در این بخش صورت نگرفته، اما سرمایه گذاری بسیار کمی توسط سکتور خصوصی صورت گرفته است. پیشنهاد من، بحیث یک متخصص اقتصاد، به جانب حکومت امارت اسلامی افغانستان این است، که سرمایه گذاری را در عرصه سکتور زراعت برای انکشاف پایداری تولید و تجارت محصولات زراعتی افزایش داده، تا روند تولیدات داخلی در سکتور زراعت افزایش و سهم تولیدات ناخالص داخلی در سطح کل افزایش یابد.

## په جلال اباد ښار کي د زاړه گمرک اړوند (۵٦۰۰) متره مربع ځمکه د سوداگریز مارکېټ د جوړولو په موخه په قرارداد ورکول کېږي

د ماليې وزارت له لوري د ننگرهار ولايت په جلال اباد ښار کي د زاړه گمرك اړوند (۵٦۰۰) متره مربع ځمکه د سوداگريز او هستوگنيز مارکېټ د جوړولو لپاره، خصوصي سکتور ته په قرارداد ورکول کېږي. د صلاح الدين ايوبي په نوم د دغه جوړېدونکي سوداگريز او هستوگنيز مارکېټ د قرارداد او داوطلبۍ د څرنگوالي، د شرطپاڼي د اصولو او شرايطو او د غوښتونکو شرکتونو د معيارونو په تړاو د ماليې وزارت د مسؤلينو او يو شمېر خصوصي رغنيزو شرکتونو د استازو ترمنځ غونډه ترسره سوه. په دې غونډه کي د ماليې وزارت د عامه پانگوني او زېربنا لوی رياست او د دولتي املاکو لوی رياست تخنيکي کارکونکو د خصوصي رغنيزو شرکتونو راغلو مسؤلينو ته د ياد قرارداد د ترلاسه کولو ټول اړين شرايط او مقررات په بشپړ ډول بيان کړل، چي پر بنسټ به ئې رغنيز شرکتونه خپلي طرحي ترتيبوي او له ماليې وزارت سره به ئې شريکوي. په دې غونډه کي د قرارداد اړوند د رغنيزو شرکتونو د مسؤلينو پوښتنو ته ځوابونه هم ورکول سول. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت اړوند د يادي ځمکي ټوليز مساحت (۳،۵) جريبه دئ، چي (۲۰۰۰) متره مربع ئې د ننگرهار ولايت د ښاروالۍ له ماستر پلان سره سم، عام المنفعه سيمي ته ځانگړې سوې ده او (۵٦۰۰) متره مربع ځمکه د صلاح الدين ايوبي سوداگريز او هستوگنيز مارکېټ د جوړولو په موخه په قرارداد ورکول کېږي، چي (٦۰٪) سلنه ئې د سوداگريز مارکېټ او (۴۰٪) سلنه برخه ئې د شنې ساحې لپاره ځانگړې سوې ده.


# اعلانات داوطلبی

### د غزني ولايت د امر بالمعروف او نهي عن المنكر رياست د جايداد خبرتيا!

د غزني ولايت مستوفيت په پام کي لري، چي د غزني ولايت د امربالمعروف او نهي عن المنكر رياست اړوند ملکيت د يوه باب کتابتون ودانۍ او يوه باب ورزشي جمنازيوم، چي (۸) باب اطاقونه او نور ملحقات لري، د غزني ښار په مرکز کي د علی لالا صاحب په دښته کي موقعيت لري، د داوطلبۍ له لاري د يوه کال لپاره په قرارداد ورکړي. ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص او امارتي اداري، چي غواړي دغه ځای په کرايه ونيسي، کولای سي خپل غوښتنلکونه د اعلان د خپرېدو له نېټي څخه تر (۲۱) کاري ورځو پوري په (۰۴/ ۲/ ۱۴۰۳) نېټه د غزني ولايت مستوفيت د دولتي املاکو لوی مديريت ته وړاندي کړي او شرطپاڼه د(۲۰۰۰) افغانيو په بدل کي ترلاسه کړي، او خپله دي په (۱۴۰۳/۲/۰۵) نېټه د داوطلبۍ غونډي ته حاضر سي او تضمين نقداً اخيستل کيږي.

### د داوطلبۍ خبرتيا!

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ماليې وزارت اړوند اسلام کلا په گمرک کي د څلور بابه هنگرونو د جوړولو) په پروژه کي، چي تشخصيه نمبر ئې (۰۰۵-NCB/W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لاري د شرطپاڼي له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (حمل ۲٦ مه۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.

د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (ثور ۴ مه ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: دوه ميليونه ( ۲۰۰۰۰۰۰) افغانۍ.

ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو رياست – د تدارکاتو مشاوريت

د اړيکو شميرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

### اعلان مزایده (۷) جایداد دولتی مربوط مستوفیت پروان

اداره مستوفیت ولایت پروان (هفت) قطعه جایداد را واقع جنگل باغ وقلعه گلی ولسوالی بگرام به اعلان داوطلبی گذاشته است که قرار ذیل میباشد.

۱- موازی (۱) جریب زمین واقع چنگل باغ مرکز ولایت پروان که اکنون به منظور کلینیک حیوانی و نباتی میباشد .
۲- موازی (۲۱٦/۷) متر مربع زمین واقع چنگل باغ که اکنون به منظور دوکان داری میباشد.
۳- موازی (۱۷٦) متر مربع زمین واقع بالاغیل به منظور اعمار دوکاکین میباشد.
٤- موازی (۱۱۰) مترمربع زمین واقع چنگل باغ که اکنون به منظور خبازی میباشد.
۵- موازی(۱۲٤۰) متر مربع زمین واقع چنگل باغ که اکنون به منظور رستورانت میباشد.
٦- موازی (۵۰) جریب زمین درجه ( ٦) واقع قلعه گلی باریکاب که به منظور کشتمندی میباشد.
۷- موازی (۵۰) جریب زمین درجه ( ٦) واقع قلعه گلی باریکاب که اکنون به منظور کشتمندی میباشد.

داوطلبان که خواهش کرایه گرفتن ساحات متذکره را داشته باشد، بعد از نشر اعلان به مدت بیست یک روز در خواست های خویش را به اداره مستوفیت پروان بسپارند.

و همچنان در مجلس مزایده که در حضور داشت مزایده کننده گان واجد شرایط در مدیریت املاک مستوفیت تحت نظر هیت مزایده تدویر میگردد اشتراک نمایند.

البته اسناد دیر رسیده بعد از ضرب الاجل تعین شده رد میگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه
د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي
ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



## 5 Arrested Including Employee on Charges of Financial Corruption, Theft at Herat Customs



One employee of Herat Customs warehouse branch, three workers and one employee of a trading company have been arrested on charges of theft of commercial goods and financial corruption of the same company. The employee and three workers under the guidance of an employee of a trading company and by taking money, had stolen a quantity of valuable goods from the imported items of the said company, and handed over to the said employee. The accused persons were arrested by the officials of the customs and they confessed their crime. The accused persons have been handed over to the relevant judicial bodies for further investigations and proceedings.


## Kandahar, Zabul Embrace Project After MoF Activates Solar Power Systems



The solar power system has become active and usable in the Mustofiyats of Kandahar and Zabul provinces with the power capacity of 35KW and 26KW respectively. The estimated cost of solar power system of Kandahar Mustofiyat was 2,613,834.193 Afs and Zabul Mustofiyat total estimation touches 2,547,431.121 Afs. The expenses of the said systems are paid from the development budget of the MoF. "The project of solar power system of KDR Mustofiyat has been implemented with the efforts and financial support of MoF, which has the capacity to produce 35KW of electricity and Kandahar Mustofiyat will benefit from this system, the system will facilitate the work process of the applicants and the electricity problem will be solved forever", said Maulawi Syed Noor Ahmed Saeed, Mustofy of KDR. On behalf of MoF, Mohammad Musa Hammad, the head of Contracts Facilitation of the Ministry added during the opening of the project that MoF tries to implement electronic projects in order to improve and standardize the work in all provinces. Notably, MoF sets out to equip and modernize the Mustofiyats and Customs Offices of all provinces with electronic and modern technology so that they can compete with regional and global systems.




## روسيې طالبان فورم ته ور بللي دي




د آرټي يا رشيا ټيلډي ـ RT په نوم روسي رسنۍ د اسلامي امارت د يوې اقتصادي بلنې په هکله يو تازه راپور خپور کړی دئ، چې وايي تمه ده؛ افغانستان د مسکو او اسلامي نړۍ ترمنځ د اقتصادي همکاريو په کلنۍ غونډه کې ګډون و کړي. دا اقتصادي غونډه، چې د روسيې او اسلامي هيوادونو ترمنځ په راتلونکې (مې) مياشت کې دائرېږي، راپور دا ټکی د تاس خبري اژانس په استناد سره تائيد کړی دئ، چې وايي د اسلامي امارت استازی د روسيې په غوښتنه ور بلل سوی دئ او په اړه ئې داسي کرښې کاږي: «د ضمير کابلوف په نوم د افغانستان له پاره د مسکو د ولسمشر ځانګړي استازي په راپور کې تائيد کړې ده، چې طالبانو ته بلنه ور کړل سوې ده، چې په روسيه کې په راتلونکې اقتصادي غونډه کې ګډون و کړي او استازي ئې په غونډه کې برخوال پاته سي.» راپور وايي، چې د «روسيې- اسلامي نړۍ» دا (۱۵.) نړيواله اقتصادي غونډه، چې د کازان فورم (Kazan Forum) په نوم سره مسمی سوې ده؛ د (مې) مياشتي په (١٤ - ١٩) د روسيې د تاتاريستان جمهوريت په پلازمېنه کازان کې به جوړه سي. د دغه راپور په متن کې راغلي دي، چې دا د مسکو او اسلامي نړۍ د هيوادونو ترمنځ د اقتصادي همکارۍ اصلي پلېټفارم يا په اصطلاح يو بنسټيز چوکاټ دئ. يادي روسۍ رسنۍ ويلي دي، چې د اسلامي امارت ور بلل دا لومړی ټپال نه دئ، بلکې د پروسېږکال د ګډون بلنې ته هم اشاره کوي. د اقتصادي بلنې تر څنګ، ضمير کابلوف په راپور کې د امنيت د ټينګښت او همکارۍ په اړه دا هم ويلي دي، چې وايي: «د اسلامي امارت او روسيې تر منځ د نړيوالي ترهګرۍ پر وړاندي د مبارزې په برخه کې همکاري په منظم ډول تر سره کېږي.»

## Torkham Customs Staff Prevents Smuggling of Ammunition



The staff of CIDs (Commercial Item Descriptions) of Torkham customs has found that in a commercial shipment belonging to Karim Abid Company, which was loaded with cement, there were 10 pistols of different types, 21 magazines and one comb, which were embedded very skillfully. "Smugglers wanted to bring the said amount ordnance from the neighboring country to Afghanistan as the staff has detected and seized", said the officials of the customs. It is worth mentioning that currently all the customs of the country are seriously monitoring the prohibited goods and contrabands and no one is allowed to export or import such kinds of goods.

د شتمنۍ اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.